فرمان الهی

پس باید پیکار نمایند کسانی که زندگی دنیا را در بدل آخرت میفروشند و کسی که در راه خدا(ج) می جنگد، پس کشته میشود یا پیروز میگردد به وی مزد بزرگ میدهیم. و چیست شمارا که پیکار نمیکنید در راه خدا و برای خیربیچارگان از مردان و زنان و کودکان آنانکه میگویند: ای پروردگار ما برون آر مارا از این قریه که ستمگاراند اهل آن و مقرر کن برای ما از نزدیک خود کارسازی و مقرر کن برای ما از نزدیک خود یاری دهنده ای. (النساء : ۷۴-۷۵)

شریعت

اونیزه

د طالبانو د اسلامي تحریك نشراتي ارگان

ارشاد نبوی

از ابوذر و معاذ بن جبل رضی الله عنهما روایت است که رسول اللهﷺ فرمود: از خدا بترس هر کجائی که بودی و در مقابل بدی نیکی کن تا آنرا محو نماید، و با مردم به شیوهء نیکو و اخلاق پسندیده رفتار کن.

(اربعین نووی رح)

لومړی کال | څلورمه گڼه | دوشنبه د ۱۳۷٤ش کال د مرغومی (جدی) د میاشتی (۱۸) | د ۱۹۹٦ میلادی کال د جنوری (۸) | د ۱٤۱٦ق کال د شعبان المعظم (۱۹)

د طالبانو د اسلامی تحریك د عالی شوری غړي مولوی احسان الله«احسان» له (شریعت اونیزی) سره په مرکه کی:

هغه خلك چی ځان یی دخلکو معزز ترین باله او په هیواد کښی حساب پری کیده، خو چی د کمونیستانو په ملگرتیا کښی یی کامیابی او عزت وکوت خدای (جل جلاله) د خلکو ذلیل ترین وگرځول

د روسی بندیانو په هکله به د طالبانو عالی شوری، د علماء کرامو مرکزی شوری او د ملت مخور کسان گده پریکره کوی

د طالبانو د اسلامی تحریك د عالی شوری غړی مولوی احسان اللّهواحسان» د لومړی پوښتنې په ځواب کښی وویل: کامیابی او نا کامیٔ په حقیقت کی د خدای (جل جلاله) تر نصرت او عهم نصرت پوری اړه لری، که چیرته د خدای (جل جلاله) نصرت له طالبانو سره لکه څنگه چی شته همداسي دوام درلود نو بیا یی که ټوله نړي مقابله هم وکړی، ضرور به بري مومی او که خدای مه کړه خبره عکس شوه مشکلات به ډیر شی. او هم دا ډول که غرگندو اسبابو ته نظر وشی، انشاء الله طالبان به حتمی کامیابیږی او د ربانی اداره به بالاخره رانسکوریږی، ځکه د طالبانو له اسلامی تحریك سره د ټول مجاهد ملت ملاتړ موجود دی، طالبان داوطلبانه د شهادت او یا اسلامی نظام د جوړیدو په ارمان جنگ کوی، او په بل اړخ کښی د ربانی ضعیف مورال دلته د بی پشتوانی افغانیو په بدل کسي جنگیږی او د کتونکو د گمان په خاطر باید ووایم کوم وخت چی طالبان له فراه او نیمروز څخه را په شا شول، دغه ضعیف عقیده کتونکی دی نتیجی ته رسیدلی وو چی له طالبانو به کندهار هم نیسی، خو دخدای (جل جلاله) نصرت، د مجاهد او مسلمان ملت ملاتړ او د طالبانو شجاعت وښودله چی حقیقت داسی نه و لکه یو لږ ضعیف عقیده کتونکو به چی گمان کاوه.

۲ مخ

* * *

د ضلع کوهاټ کهی سیمی د کمپونو د دین دوستو او مؤمنومهاجرو یو ځل بیا د طالبانو له روا مبارزی څخه خپل ملاتړ اعلان کړ

د ضلع کوهاټ کهی سیمی له کمپونو څخه د «شریعت اونیزی» خبریال خبر راکوی چی د روان هجری لمریز کال د مرغومی د میاشتي په (۹) مه نیټه د کاهی سیمی دلوگر، خساری او نورو نږدی کمپونو د دین دوستو او مؤمنو مهاجرو لخوا د خساری کمپ د مرحوم مولوی صاحب شاه محمد مدرسه کښی د طالبانو له اسلامی تحریك سره د بیا بیا ملاتړ او گډی اصلاحی شوری د جوړیدو په غرض یوه درنده غونډه جوړه شوی وه.

٤ مخ

د صوابی د بره کی په کمپ کي د علماء کرامو اصلاحی شورا جوړه شوه

د صوابی ضلع له بره کی کمپ نه د «شریعت اونیزی» خبریال خبر راکوی چی د روان هجری لمریز کال د مرغومی د میاشتی په ۱۳ نیټه د بره کی کمپ د استرگنو د ورگنو چارو د لا ښه پرمخ بیوولو او د منکراتو د مخ نیوی په خاطر

٤مخ

د کابل ښار ته هره ورځ په لسگونو ذدی تیښته کوی

له کابل نه راغلی خلك وایی چی د کابل له ښار نه هره ورځ په لسگونو کهی د تیښتو په حال کښی دی، خبر ورکونکی زیاتوی د کابل ښاریان چی په کابل کښی یو طرف ته د شوری نظار او بل طرف د اقتصادی ستونزو له لاسه نور د اوسیدلو چانس نلری مجبوراً د کابل له ښار نه دلوگر، میدان او جنوب ولایتونو په لور د هجرت لار خیلوی او هره ورځ په لسگونو کهی له کابل نه تښتی.

* * * *

د کابل ښار د گذرگاه په سیمه کسي د تیلو یوه لویه ډیپو تباه شوه

له چهارآسیاب نه د(شریعت اونیزی) ځانگړی خبریال خبر راکوی چی د روان هجري لمریز کال د مرغومی په «۱۵» مه نیټه د کابل اداری د گذرگاه په سیمه کښی د تیلو یوه لویه ډیپو د مجاهدینو د توغندی هدف وگرځیده او د تیلو د یوه عراده ټانکر په شمول د اور د اخستو له امله تباه شوه. خبر وړاندی لیکی په ډیپو تر هغه اور بلیده ترڅو په ډیپو کښي ټول ځای په ځای شوی تیل د اور لمبه شول.

په روسیه کښی د افغانی بندیانو په هکله په پیښور کښی د طالبانو د اسلامی تحریك د لوړ رتبه غړیو ترمنځ غونډه وشوه

د (شریعت اونیزی)ځانگړی خبریال خبر راکوی چی د ۱۳۷٤ هجري لمریز کال د مرغومی د میاشتی په ۱۷ مه نیټه د پیښور په حیات آباد کښی د طالبانو د اسلامی تحریك لوړ رتبه غړیو ترمنځ غونډه وشوه. خبر زیاتوی غونډه کښی حضرت صاحب محمد امین جان«مجددی» هم گډون کړی وو. غونډه د سهار په ۹ بجو د قرآن کریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت پیل او د ورځی تر پولسو بجو پوری یی دوام درلود.

خبر وړاندی لیکی، طالبانو

٤ مخ

د کراچی په یوه بس موټر کی بم وچاودید لس تنه مړه او گڼ شمیر زخمیان شول

پرون د پاکستان د کراچی په ایالت کی په یوه بس کی بم وچاودید، چی لږترلږه لس نفره مړه او په لسهاؤ نفر زخمیان شول.

دیو باخبر منبع له قوله چی دا بم په یو حکومتی بس کی ځای په ځای شوی و او هغه وخت وچاودید کله چی بس هوائی ډگر ته تلونکی سړك باندی روان و خبر ځای زیاتوی چی نوموړی بس کی یو زیات شمیر سفارلی‌وجوده درلود چی خپلو کورونو ته په تلوکی و او بم داسی ښودل شوی و ترڅو وکولای شی زیات مظلومان خلق مړه اویا سخت ټپیان کړی د روغتون مسئولینو ویلی دی چی په دی زخمیانو کی د لسو حالت ډیر خطرناك دی.

* * *

په پکتیکا کښی گڼ شمیر تاریخی آثار کشف او ونیول شول

د پکتیکا له ولایت نه د (شریعت اونیزی) خبریال راته لیکی چی د روان کال د لیندی د میاشتی په وروستیو ورځو کښی د امنیتی مسؤولینو لخوا گڼ شمیر تاریخی آثار چی د هیواد د ملی شتمنو د لوټمارانو لخوا په یو موټر کښي ځای پر ځای شوی وو د خیر کوټ په سیمه کښی کشف او ونیول شول.

خبر ځای وړاندی لیکی چی په دغو تاریخی آثارو کښی یوه ډیره قیمتی ډیره چی دولس ډوله رسمونه پکښی انځور شوی و شامله ده.

خبر زیاتوی مجرمین د نوموړی ولایت شرعی محکمی ته وسپارل شول.

* * *

د لوگر ولایت په مرکز پل علم کښی یو تن قاتل د شریعت په حکم دمقتول د ورثوو لخوا په جزا ورسید

د لوگر ولایت نه د (شریعت اونیزی) ځانگړی خبریال خبر راکوی چی د روان هجری لمریز کال د مرغومی د میاشتی په (۱۲) نیټه یو تن قاتل عبدالرحیم نومی شخص چی محمد شفیق یی په ناحقه وژلی . وو وروسته له دی چی په خپلو کړو یی اعتراف وکړ د عامو خلکو په وړاندی د شریعت حکم پری تابیق او د مقتول د ورثوو لخوا په جزا ورسید.

محترم مولوی عبدالشکور «حقانی» رئیس عمومی تعلیم وتربیه در این اواخر ازخوست بازدید بعمل آورد

خبرنگار هفته نامه، شریعت از ولایت خوست خبر میدهد که:

مولوی عبدالشکور حقانی رئیس تعلیم وتربیه، تحریك اسلامی طالبان در این اواخر از ولایت خوست بازدید بعمل آورد و با مقامات آنولایت بشمول رئیس تعلیم وتربیه، ولایت خوست محترم قاری هارون در موضوعات ذی علاقه به خصوص مسائل تعلیم وتربیه ملاقات نمودند. محترم مولوی صاحب غرض پیش برد امور تعلیم وتربیه آنولایت مبلغ هفت میلیون افغانی با ریاست تعلیم و تربیه و مبلغ یك ملیون افغانی با منسوبین آن ریاست مساعدت نمودند. خبر زیاد مکند که: لیلهء مدرسهء شهید شاه کرین هم ضمن یك گرد هم آئی افتتاح گردید.

سرمقاله

شریعت

آشتیهای ننگین

چه قدرحق و صوابست آنچه در روایت آمده که: «دوست داشتن دنیا (مال و جاه) رأس واساس هر بزه و گناهست» در زبان عربی چه قدر معقول و بجا گفته اند که: «دوست داشتن تو چیزی را (از دنیا) ترا کر میکند وکور».

اگر این نباشد برای انسانهای دانسته و هوشمند بسی تلخ و ناگوار است که ذلت و فروتنی و نیایش پیش غیر خداوند تعالی ولو که در بدل انباشته و اندوخته هایی فراوان از مال دنیا باشد، برخود قبول و هموار کند، آنهم به پیش کسی ویا کسانی که سالهای سال او را دشمن سرسخت گفته و بدشمنی گرفته باشد و گرامی ترین جانهای بیشماری بین همدیگر کشته و جوانان نو عمر، مانند برگ های تازه و نورستهء بهار به پیمانهء برگ های زرد خزان ریختانده و خانمانهایی بسیاری را بسوگ واندوه نشانیده باشند.

تعجب انگیز و حیرت زا و ننگین تر از این آنست که کسی را بخاطر حب جاه و چوکی و مال، دوست عزیز و فرزند گرامی و جانشین خود گفته باشد ولی بمجردیکه خوف زوال جاه ومال از وی احساس کند او را دشمن و کافر و مرتد بگوید و برضد وی اعلان جهاد کند وسالها با او مقاتله و مقابله لشکری نماید.

با اینهمه چون وقتی برسد که اندیشهء زوال جاه و مال و منصب از سوی دیگری مطرح شود؛ یك بار دیگر به ... همان فرزند گرامی دشمن گردانیده مراتب خدمتگذاری و منت پذیری را تقدیم و بکمال عجز و نیاز، به انتهای کرنش و خضوع به تمام تضرع و ادب از وی بخواهد که این دوست دیرینه و پدر بزرگوار تان را بحضور بپذیرید!

کیست که: ذل و فروتنی، پستی و دنائتی به همین پیمانه را تن در دهد و بر خود هموار کند؟ چیست که : مدعیان فهم ودانش را به این همه منت پذیری و نیاز و نیایش را دار کند؟ چیز دیگری نیست بجز حب جاه و جلال و متاع ناپایدار دنیا.

ص٤

ډیری د امید او خوشحالی منظری مو ولیدلی

الحاج مولوی احمدجان

۲ مخ

ملی گرایی در خدمت صلیبیها

ص۲

رټل شوی خلقیان او پرچمیان د خپل بادار په کور (مسکو) کښی

۲ مخ

د زمانی نانذری د تاریخ دنده

۲ مخ

اسلام او دیمو کراسی

۳ مخ

د مسلمانی عقیده

۳ مخ

اعلان فاتحه

به عموم سنگرداران اسلام ، مجاهدین و مهاجرین رسانیده میشود که نسبت فاتحه خوانی شهداء گلگون کفن راه حق تحریك اسلامی طالبان که مربوط صفحات شمال اند، در ولایت لوگر دائر میگردد. امیدواریم که درین جلسه مملو از فیض و برکت اشتراك نموده، ممنون سازید.

آدرس و تاریخ : مرکز ولایت لوگر روز پنجشنبه: ۱۳۷٤/۱۰/۲۱ هـ ش مطابق ۱۹۹٦/۱/۱۱ میلادی

از طرف تحریك اسلامی طالبان افغانستان

دا هیواد د ټولو افغانانو شریك کور دی، مونږ ته په کندهار، کابل، شمال، جنوب، غرب او شرق کښی هیڅ ډول فرق نشته

د اسلام د خادم ملامحمد عمر د وینا و څخه

دیری د امید او خوشالی منظری مو ولیدلی

مولوی احمد جان په دغو ورځوکی د ځو وسمی کارونو لپاره کندهار ته تللی ؤ د «شریعت اونیزی» خبریال ددغه سفر په هکله له دوی سره مرکه کړی چی لنډیز یی وړاندی کیږی:

هغه وخت چی موږ د کندهار هوایی میدان ته ورسیدو زما لمړی نظر د هوانه په هغه الوتکه ولګید چی د کابل اداری ته ئی ۳۵ پنځه دریش زره لکه مرمی رسولی او د طالبانو اسلامی تحریك په زور راښکته کړی وه، چی د روسانو د شرم او ددوی د شجاعت او عزت لویه نمونه وه او بله د اریانا افغان هوایی شرکت هغه الوتکه ولیدله چی طالبانو د ملکی ششمنیو د ساتلو په خاطر راښکته کړی وه.

له دی نه وروسته چی کله موږ له هوائی ډګر څخه د ښار په لوری راوخوځیدو د میدان د عمومی سړک خوانه مو یوه لویه دروازه ولیدله چی په ډیر مهارت سره جوړه او اوس هم کار وریاندی روان وو. له دی نه وروسته مو کله چی د کندهار بولدك سړك ولید، پخوا کندی کندی وه خو اوس کار وریاندی روان وه او د ډاکار موسسی له خوا ډیر ښه جوړ شوی وه. د ښار خوانه چی ورسیدو زموږ موټر طالبانو له خوا د معائنی نه وروستو ښارته داخل شو او هلته زیاته ګڼه ګوڼه وه. موږ په ډیر ځند سره له ښاره څخه تیر شولو، بیا مو د اوبو صفاکولو وسایل چی په ځاګانو کی ؤ، ولیدل. دینه وروسته د میرویس نیکه روغتون ته ولاړو او هلته موځلور سره بستریز هغه روغتون ولید چی څو کاله مخکی د چیناپانو لخوا جوړ شوی وه او بیایی په جنګو کی هرڅه له مینځه تللی وه اوس د طالبانو د اسلامی تحریك په برکت د موسساتو لخوا په خورا ښه مهارت او ښائست سره ترمیم شوی وه چه موږ یی په ډیرو ځایونو کی ساری نه وه لیدلی.

بیا زه د ولایت پخوا راستون شوم چی ولایت ته وارسیدم په لیار کی طالبانو یو پاټك اچولی وو او لیار ئی بنده کړی وه ما پوښتنه وکړه چی څه چل دی، هغوی وویل د لمانځه وخت دی باید تاسی لومړی لمونځ وکړی او بیا لاړشی، ما ورته وویل چی ولایت نژدی دی هلته به لمونځ ورسوم. دوی وویل چی په لیار کی دی نور مجاهدین هم نه پریږدی.

په دی وخت کی زما نظر په دوکانونو ولګیده اکثره دوکانونه می ولیدل چی خالی څادری پری اچولی وه او په ځنو به څادر هم نه وه ، او ټول خلك به د جماعت خوانه روان وه ددی حالت په لیدلو سره به په ذهن کی د صحابه، کرامو رضی الله تعالی عنهم دور راوګرځیدو کوم چی موږ په احادیثو کی لوستی وه هغوی به هم چی اذان واوریده د جماعت خوانه به تلل، په کندهار کی هم داسی حال وو، په نوموړی ولایت کی ټولی اداری فعاله شوی وی د حج او اوقافو ریاست هم فعاله شوی دی په دی کال کی به ان شاء الله لس زره حاجیان لیږی.

بیا مو له حاجی ملا محمد حسن اخند، ملا محمد غوث، مولوي صاحب احسان الله احسان ، مولوی صاحب نورالدین ترابی سره ځان ځانته ملاقاتونه وکړل او په بیلا بیلو موضوعاتو مو بحث وکړ. په خاصه توګه مو د پښاور د نمایندګی په اړوند مفصلی خبری وکړی او د نمایندګی کارګزاری مو ورته بیان کړه دوی زموږ د ټولو کارونو ډیر تائید وکړ او خوشحالی ئی څرګنده کړه او ویی ویل تاسی چه کوم فعالیت کړی بالخصوص د شریعت د اونیزی په اړوند دیادونی وړ ده او موږ پری افتخار کوو ، او ان شاء الله د کابل د نیولو وروسته به دغه اخبار یو مرکزی اخبار وګرځی. بیا مو په دوهمه شپه د اسلام د ستر خادم مجاهد ملامحمد عمر آخند سره ملاقات وکړ او له محترم مشر سره مو هم د تحریك په اړوند په مختلفو موضوعاتو خبری وکړی او ما د نمایندګی د کړو وړو په اړوند ده ته معلومات ورکړل. هغوی هم د خپلی خوشحالتیا اظهار وکړ او بالخصوص ئی د شریعت د اخبار ستاینه وکړه، لدینه وروسته د چمن په خوا را روان شوم پدی لیار کی به پخوا لسهاؤ پاټکونه وه او له خلکو به ئی پیسی او مالونه لوټول خو اوس صرف دوه پاټکونه وه چی لومړی موږ طالبانو او دوهم او تلاشی یی وکړه او وروسته ئی وویل فی امان الله او په دوهمه پاټك کی هم داسی و او راته ئی وویل چی په لیار کی خو به کوم تکلیف نه وی درته رسیدلی.

کله چی د کوټیښی نمایندګی ته راغلو هلته مو لومړی ملاقات له مولوی احسان الله احسان سره وکړ هغه هم دلته تشریف راوړی وه بیا مو له مولوی صاحب محمد افغانی چه په جریده البدر کی کار کوی، معصوم افغانی، مولوی مطیع الله، مولوی جان محمد او له هغوی سره مو هم ګټوری خبری وکړی، هغوی د هر څه سربیره زموږ د اخبار ستاینه وکړه.

ملی گرایی در خدمت صلیبیها

عبدالرحمن احمد هوتکی

در طول تاریخ وقایع و حوادث بزرگ و توطئه های خطرناکی دامنگیر جهان اسلام شد. که این رویدادها و حوادث پیامد های تلخ و ناگوار به دنبال داشت و متأسفانه در درازمدت سبب شد که اسلام و مسلمین را از صحنه های سیاسی، اجتماعی، علمی، اقتصادی و اخلاقی بطرف انزوای سوق داده و از عرش سیادت به فرش ذلت و شکست برساند.

به خصوص جامعه، اسلامی در سه قرن اخیر به تغییر و تحول بسوی انحطاط مواجه گردید که در ابتداء کند و بطی مینمود اما رفته رفته به مروروزمان شدت و سرعت اختیار کرد در نصف قرن بیستم به اوج خود رسید، جوامع اسلامی از دین، آئین، کلچر و فرهنگ خویش بریده بطرف غرب رو کردند و تقلید از غرب تشدید و عام شد، چنین پنداشته شد که نمیتوان سد و مانع این تحول و دیگر گونی شد و باید به آن تن داد و علیه آن هر تلاش عبث و بیهوده میباشد.

این تحول و تغییر نامیمون بعد از آنکه عیسویها در جنگهای صلیبی که دو قرن ادامه داشت و کفار عیسوی امیدوار بودند که مسلمین را در میدان جنگ و کارزار نظامی شکست بدهند و در این جنگ از انواع ظلم، وحشت و بربریت کار گرفتند، تنها دریك اجتماع بزرگ که به خاطر تجلیل از مقام پادشاه قدس (گود فری) برگزار گردیده بود هفتاد هزار مسلمانرا در ظرف سه روز قتل عام کردند به این شکل کفار عیسوی خواستند که مسلمین را در میدان جنگ شکست بدهند، اما نتوانستند خجل و شرمسار بازگشتند، این جنگ که تاریخ پر از وحشت و بربریت از خود بیادگار ماند بعد از آنکه دولت عثمانی پای بعرصه، وجود گذاشت و توانست قلعه، مستحکم اروپا و آسیا را بکشاید (استانبول و قسطنطنیه) و آنرا مرکز خود قرار بدهد به پایان رسید. و آغاز یی شد برای خطرناك ترین معرکه و جنگ که برای اسلام و مسلمین نهایت زیان آور تمام شد آن (جنگ عقیده و اندیشه) به جای جنگ (شمشیر) بود.

در این مرحله کفار غربی صلیبی را ها و روشهای بسیاری را بکار بستند تا بتوانند مسلمانها را به مرگ تدریجی مواجه کرده و رفته رفته بزنده گی شان خاتمه بدهند در این مرحله غرب صلیبی کوشش میکرد تا مفکوره و دماغ مسلمانها را شستشو نموده و از اسلام آنها را دور کرده بی دینشان گرداند.

حمله و تجاوز ناپلیون بر مصر نقطه عطف در تغییر و دیگر گونی معرکه (عقیده ئی و نظریاتی) و روشهای آن پنداشته میشود که در این جنگ پوز ناپلیون به خاك ذلت مالیده شد و نتوانست که کامیاب گردد. و بر آمدن فرانسه از مصر واضح ترین علامه و نشانه در این جنگ با اروپا در عصر حاضر به این گفته، ما پنداشته میشود زیرا در این وقت است که اروپا تصمیم میگیرد که به جای معرکه، شمشیر و نیزه، جنگ عقیده و نظریه را دنبال نماید و از اینطریق جذبه، دین اسلام را از قلب و عمق وجدان و ضمیر ملت مسلمان بیرون کرده و به جای آن ملی گرائی، تعصبات قومی، قبیلوی، لسانی و جغرافیائی و غیره شعار های جاهلی را جایگزین سازد. و درست کفار صلیبی در این راستا، به سخن (الرئیس) پادشاه بزرگ فرانسه در وقت که در مصر در زندانی واقع منصوره زندانی بود گفته بود عمل کردند: (بتحقیق مسلمانها شکست ناپذیراند و تا وقتیکه بر عقیده، خویش استوار باشند پیروزی از آنها است. بناءً اروپا باید شیوه های جنگ گرم را با مسلمانان تغییر داده و با آنها جنگ عقیده را به راه بیاندازند) روی همین هدف نامقدس و شوم غرب صلیبی در صدد شد گروهایی را در جامعه اسلامی تحت تربیه و به خصوصی تربیه

ص۴

رټل شوی خلقیان او پرچمیان د خپل بادار په کور(مسکو) کی

د افغانستان خلقیان او پرچمیان ډیر ظالمان وو؛ له ورکتوب نه به یی د وحشیانو او ځنګلی ځناورو په خوی خاصیت آموخته کول او داسی به یی په نظر کی ورکول چی ټوله میړانه، غیرت او اتلوالی په تاسی ختمه ده.

هغوی د خپلو استعماری مقصدونو لپاره هر چیرته خپلو مزدورانو ته دغسی روزنه ورکړی وه، مګر د افغانستان خلك فطرتاً ډیر سرشار دی او له داسی جعلی زورورو څخه نه ویریږی ولی خلقیانو د ځان لپاره لویه میړانه او کمال ګاڼه؛ ځکه به یی له نوم سره داسی تخلص تړلی و چی په زور، ظلم او قوت به یی دلالت کاوه، یو به تندرو یو به مرګ، یو به تیران و ، یو به شر را و داسي نور.

له دی کبله و چی د کمونیستی تجاوز په وخت کی د بل هر ملك له کمونیستانو څخه د افغانستان کمونیستانو (خلقیانو او پرچمیانو) د خپلو بادارانو د خوښی لپاره په خپل قام او خپلو خلکو داسي تیری او دومره زیاتی او ظلم وکړ چی بل چیرته به یی مثل ډیر کم وی.

کله چی د الله تعالی په کومك د افغانستان د مخلصو مسلمانانو د بی مثاله قربانیو په برکت د کمونیزم جادو مات شو، تیری کوونکی روسیان له افغانستان څخه شرمنده ووتل، ددوی مزدوران خلقیان او پرچمیان چی کوم د مجاهدینو له ماتوونکی ګوزار څخه بچ شوی وو، مسکو ته پسی د تښتیدل، دوی به پخوا د مسکو، لیلن ګراد خارکوب او روس د نورو ښارونو ترقی او اسوده ژوند ډیر تعریفونه او ارمانونه کول. خو هلته چی د خپلو بادارانو دربار ته ورغلل ددوی د ډیر عمر د ارمانونو او توقعاتو پرخلاف هغو ورټل، له دربار نه یی وشړل او د لرګسو مانیو په ځای د ژوند کولو لپاره هغو غاروتو ته ای شول چی هلته صحرایی ځناور پکښی اوسیږی د دوی هغه ډیر معتبر به لا هغه څوك وی چی تر زمکی لاندی ریل پټلیو خواته یی د خپل ځان او خپل کورنی لپاره د ټاټوبي ځاګاموندلی وی.

چی سړی سوچ وکړی نو څومره ذلت، خواری، لوږه ، تنده، ساړه او ګرمی به دوی او ددوی اولادونو ګاللی وی! آیا د مالتو، کیټو، خټکو، بادرنګو او نورو میوو غوړزول شوی پوستکی به یی نه وی خوړلی! آیا له ډیرانه څخه به یی مات ګوډ لوښی، کپږ زوګالی، جامی او نور شیان نه وی راټول کړی! دا واړه به وریاندی تیریږی او له دی نه به لا زیات څه هم تیروی، ځان بادارانو یی اوس نه یوازي د یو تا خوښه مزدور په شمیر هم نه شماری، بلکی د پناه ګزینو د بشری قانون په حکم یی هم پخپله زمکه نه پریږدی.

ددوی بادارانو به یا ددی لپاره کړکه او نفرت ورڅخه کوی چی نه یوازی ددوی دنیمګرو چوپړونو په نتیجه کی د هند تودو

۴ مخ

هغه خلك چی ځان یی د خلکو معززین باله ...

مولوی صاحب د بلی پوښتنی په ځواب کښي وویل: دا خبری بی ځایه ځکه دی چی طالبان د څوارلس کلن جهاد په سختیو کښی ښه تجربه شوی دی، په تیره بیا دغو طالبانو د تیر کال سختي پخنی د میدان ښار په درو، سودرو او د کابل په نوروسیمو کښی تیری کړی او یوه خطره هم شاته رانه غلل، او که یقیناً حقیقت ته نظر وکړو مرګ او شهادت ته ځان ورکول د پخنی د سختي په نسبت څوچنده ګران امر دی طالبانو چی د شهادت قبلولو ته ملاتړلی نو پخنی او بله سختي په طریقه اولی سره ګالی.

دغه راز مولوی صاحب د یوی بلی پوښتنی په ځواب کښي وویل: د پاکستان ملاتړ او همکاری خبری مطلق دروغ او بې اساسه دی، د شینډنډ د هوایی ډګر او هرات د نیولو عوامل د لوی او توانا خدای (جل جلاله) نصرت، د طالبانو ایثار، فداکاری، دیانت، شجاعت او د هرات د غیورو مسلمانانو له طالبانو سره بشپړه همکاری او له ربانی او اسماعیل خان نه د لاس اخستل او دغه راز طالبانو سره د کندهار د مجاهدو خلکو بشپړ عملی ملاتړ و.

مولوی صاحب وړاندی زیاته کړه چه مجاهد او مسلمان پاندی په جهادی امورو کښی دوه حالته راځی یو د غرور حالت او بل د مأیوسی حالت، په لومړی حالت کښی مجاهدین د موقتی عتابی ماتی سره مخامخ کیږی، او په دوم حالت کښی بیا له واقعی مجاهدینو سره د خدای(جل جلاله) نصرت حتمی وی. زموږ لومړی کوښښونه شاید په غرور ملوث شوی وی چی په نتیجه کښی د موقتی ماتی له عتاب سره مخامخ شو، ددی پر ځای چی شینډنډ وتیسو فراه او نیمروز مو له لاسه ورکړل.

او په دوم ځل موږ د پوره مایوسی سره مخ د ټولوروسانلو څخه مو نظر قطع شو یوازي او یوازی د یو خدای (جل جلاله) نصرت ته مو سترګی پاته شوی ، ټولو ولیدل چی داسی نصرت راغی چی چاپی تصور هم نشو کولای.

مولوی صاحب د څلورم سوال په ځواب کښی وویل:

هغه خلك چی معزز ترین د خلکو یی ځان باله او په هیواد کښی په هغوی باندی حساب کیده، خو چی د کمونیستانو په ملګرتیا کښی یی کامیابی او عزت وکوت خدای(جل جلاله) ذلیل ترین د خلکو وګرځول. موږ په دی مکلف نه یو چی پر ټوله دنیا حکومت وکړو، خو په دی مکلف یو چی د جهاد او اسلام له اصلی خط نه منحرف نشو، د مسلمان او مجاهد ملت په وړاندی مو تل ویلی، ای قهرمان او مجاهد ملته! ای جهادی قوتونوا راشی د طالبانو د اصیل اسلامی او غیر منحرف تحریك ترڅنګ ودریږی ترڅو په افغانستان کښی یو اصیل نه ختیځ وال او نه لویدیځ وال سپیڅلی اسلامی حکومت جوړ کړو . راشی افغانستان د نړی د مستضعفو مسلمانانو د پاره کور وګرځوو. راشی افغانستان د نړی د باطلو قوتونو په مقابل کښی یو نه ماتیدونکی سنګر وګرځوو او راشی د نړی مسلمانانو ترمنځ یو عالم ګیر اسلامی وحدت وجود ته راولو، ترڅو نړیوال جهانګیر کفر ته ابدی ماته ورکړو او راشي د عزت او ذلت مالك الله (جل جلاله) ویبلو انحرافی لاری چاری پریږدو.

مولوی صاحب د پنځم سوال په ځواب کښی وویل:

موږ دروسانو له ځواب څخه وروسته بیا خپل مسلمان او مجاهد ملت ته اعلان کړه که د بندیانو په هکله د چا سره د اعتبار وړ اسنادوی موږ ته دی راوړی چی موږ له روسانو سره بیا خبری پری وکړو او که اسناد له چا سره نه وی د روسانو د خوشی کیدو او نه خوشی کیدو په هکله به د طالبانو عالی شوری، دعلماء کرامو، مرکزی شوری او د ملت مخور کسان پریکړه کوی.

دغه راز مولویصاحب د یوی بلی پوښتنی په ځواب کښی چی یو لړ خلك وایی چی د طالبانو تحریك د جنوب د پښتنو طالبانو نه جوړ دی وویل:

دا خبره موږ په کلکه ردوو او هم له حقیقت نه لري خبره ده که د سمت یا پښتو یا فارسی خبره وی، خلك دی راشي زموږ صفونه دي وګوری چی یوازی پښتانه دی که د سمت شمال طالبان هم پکښی شته د چهارآسیاب په لومړی کرښه کښي په لومړی برید کښي د بدخشان طالبان له ټولو اول ولاړ دی تنها د بدخشان ولایت دری سوه ته زیات تاجك طالبان او علماء کرام د ربانی او مسعود لخوا په شهادت رسیدلی .

ټولو ولیدل چی د طالبانو د اسلامی تحریك مجاهدینو په اول قدم کښی د کندهار او هلمند په سیمو کښی پښتانه مفسدین بی ... بیلی کړل چی هغه مفسدین اوس ټول د ربانی ترڅنګ ولاړدی د تنظیمونو په لړ کښی اول د حکمتیار پښتون تنظیم د ټکول شو. او همدا رنګه که د ژبی او سمت خبره وای سیاف خو لوی پښتون دی ولی د ربانی اداری سره ولاړ دی.

خبره اصل د حق او باطل ده.

پاسخ خوانندگان به شریعت

دوشریعت اونیزی نشراتي ارکان درنو او قدرمنو مسؤولینو:

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته.

محترمو: تاسو د شریعت اونیزی خپرونی په دوهمه ګڼه کښی چه د جدی په څلورمه نیټه خپره شوه د یو لړ سوالونو ځوابونه غوښتی، کولای شو چه په لاندی ډول ستاسو دراته حضور ته خپل ځوابونه وړاندی کړو

اول ځواب: زما نوم سیدفضل شاه «کریمی» د سید کریم شاه زوی د پکتیا ولایت د مرکز(ګردیز) د سیدانو د کلی اوسیدونکی، د ابن سینا عالی لیسی د دولسم ټولګی فارغ التحصیل، فعلاً د کابل سنتر د انګلیسی کورس د پنځم صنف شاګرد یم.

دوهم ځواب: د طالبانو د اسلامی تحریك په هکله باید ووایو چی دا یو اسلامی قانونی اود احساس څخه ډك تحریك دی دا ځکه چی خدائی په قرآن کریم کښی فرمائی. «ای مؤمنانو ځما د نعمتونو شکرانه اداء کړی او ځما د اوامرو تابع داری وکړی که چیری تاسو ځما د نعمتونو شکرادا نه کړو او ځما د اوامرو تابع دار نه شوی نو په تاسو کښی به زه یو ټولی پیدا کړم چه هغه به کم تعداد خلك وی او ستاسو نه به ددین خدمت بهتر وکړی اوتاسو ته به د نعمت د ناشکری په بدله کښی دردناك عذاب درکړم.»

لکه څنګه چه له امر څخه روښانه ده، خدای د افغانستان په مظلومو خلکو د خپل لوی او عظیم نعمت پیرزونه وکړه چه دا نعمت د روسانو د ذلت او رسوائی نه ډك ماتی(شکست) او د شرق د امپراتوری ټوټی ټوټی کیدل وو. چه په نتیجه کښی په افغانستان کښی اسلامی انقلاب پیروز شو، ددی پرځای چه د افغانستان د جهاد رهبری کوونکی شخصیتونه ددی ستر الهی نعمت شکرانه اداء کړی.

دداسی اعمالو او خود خواهیو مرتکب شول چی د افغانستان د مظلوم او دریدره ملت ټول ارمانونه ئی د خاورو سره خاوری کړل او د ستر الهی نعمت ناشکری ئی وکړه او د افغانستان د مقدس جهاد په روښانه تاریخ کښی داسی تور داغ کیښود چه جبران کول ئی مشکل نه بلکه محال دی، همدا وو چی خالق لایزال د خپل مقدس او سپیڅلی وعدي د پوره کولو لپاره هغه ټولی چه د اسلام د مقدس دین خدمت ګاران او د مظلومو انسانانو مدد ګار د حق آواز اوچتولکی د جابرواو ظالموحکمرانانو په مقابل کښی پیدا کړو چه هغه عبارت د همدی مظلومو او فقیرو طالبانو څخه دی.

دریم ځواب:

دی کښی شك نشته چه ځموږ د منطقی واقعی مجاهدین او دینی طالبان د طالبانو د اسلامی تحریك سره همکاری او فعاله ونډه لری.

یوازی د منطقی طالبان او مجاهدین نه بلکه ځموږ د منطقی ټول خلك چه طالبان د شراو فساد د ورکولو یوازنی عاملین ګڼی په خپل ټول توان سره د هغوی ملاتړ کوی. دا ځکه چه همدا طالبان وو چه د خلکو ننګ او ناموس سر او مال ئی د مفسدینو له شر څخه خلاص کړل .

څلورم ځواب: د افغانستان د هغو سیمو له جملی څخه چی د طالبانو د اسلامی تحریك تر تأثیر لاندی دی، د خوست، پکتیا او غزنی ولایات دی چه خپله زه نوموړو ولایاتو ته ډیرځلي تللی یم د طالبانو د راتګ څخه مخکی دا سیمه د خلکو لپاره د پل چرخی زندان وو ځکه چه انسان وژنه، غلاګانی، پاټکونه، د خارجی موسساتو موټری په زور او جبر سره وړل بالکل عامه او عادی خبره وه.

خو الحمدلله چه د طالبانو په راتګ سره دا ټول فسادونه ختم شول چه اوس په لویو لارو کښی نه هغه پاټکونه شته او نه په ښارونو کښي هغه مسلح او وسلوال کسان.

اوس که غل ته د زمری زړه ورکړی نو غلا به ونکړی، ځکه چه ما په غزنی کښي د هغو غلو احوال ولید چه د دینی طالبانو له خوا نیول شوي وو او د اسلامی قوانینو مطابق ورته جزا ورکړل شوه.

پنځم ځواب:

د طالبانو د راتګ څخه وروسته کله چه دوی ګردیز ته راغلل زه پخپله څلور میاشتی په ګردیز کښی ووم. خدای شاهد دی چه ما پخپله په دی څلورو میاشتو کښی هیڅ یو خارجی شخص بالخصوص پاکستانی ملیشی د طالبانو په دفترو یا په پوستو کښی نه دي لیدلی. حتی هغه موټری چه چهارآسیاب ته به ئی مجاهدین تقلول موږ پخپلو سترګو لیدلی چه ټول به افغانی دینی طالبان او د منطقی با غیرته خلك وو.

او که څوك په دی خبره باور نه کوی کولای شی چه داخل ته لاړ شی او د حالاتو څارنه له نژدی څخه وکړی.

شپږم ځواب:

زه د افغانستان باغیرته او شهید پرور ملت ته دا پیغام لرم چه د هرچا ټول ته دی ګټیا نه کوی. راځی چه یو بل ته د وروری لاسونه ورکړو ترڅو وکولای شو د خپلو کونډو او یتیمانو اوښکی پاکی کړو د خپل دردمن ملت د زخمونو ملهم شو او خپل وران ویجاړ افغانستان ودان کړو. او همدارنګه هوی د طالبانو اسلامی تحریك ته دا پیغام دی چه د عزم متین او صبر جمیل څخه دي کار واخلی.

انشاء الله د خدای نصرت او د ملت ملاتړ ستاسو مل دی.

په درناوی

پروت په وینو کښي لت پت په پت کښي ښه بم
نه د سرو زرو په تخت پاندی یی پته

د زمانی نانډری د تاریخ دنده

شاه جهان سرداری

په څلورو کلونو خبره ور واوریده چه زموږ وطن (نه پوهیږم ازادئی ویولم او که یاغستان ورته ووایم) دومره موده وشوه چه زموږ په هیواد کښی ښکاره کمونستی نظام وپرزیده، زموږ ډیر هیواد وال د لویو امیدونو سره دخپل وطن په لور روان شول ټول په دی هیله وه چه باید اوس نو په وطن کی سوله وی، ارامی وی، جګړی ختمی، بی نی ناستی، او سکروتی ئی مړی وی،

هر څوك پدی امید وه چه نور به ددی ریبیدلی ولس پرهرونه ګنډل کیږی، زخمونه به ئی ټکوریږی، دردونه به ئی ارامیږی، ګواونه به ئی ختمیږی نور به د دوی غوږونه د توپونو دغرهار، دټانکونو د ترنګهار د طیارو د ترپهار څخه ارام مومی، دسولی او ورور ولی سیلاب به په وینو رنګ وطن صفا کړی. نور به موږ دیوه هوسا افغانستان دجوړېدو لری پیلوو.

تویك به ږدو، بیل او کولنګ به راخلو خپل کنډواله کورونه به ودانوو، یوګیا به راخلو د خپلو څوارلسو کالو مهجوره ځمکه به اباد وو، بیل به راخلو خپل ځنګل شوی باغونه به سمبالوو.

نوریه دا ستړی ولس په خپل ټاټوبی کی د دمی ساه اخلی او دخپل راتلونکی مستقبل لپاره به دنیکمرغی تصمیمونه نیسی، او داهم د دوی مسلم حق دی، دوی ددی وړدی، ځکه دوی یوه ډیره لویه جګړه ګټلی، لویه فتحه ئی کړی، یو لوی طاغوت ځواك ئی مات کړی دزمانی یوه لویه امپراطوری ئی نسکوره کړی، یو لوی داړونکی قوت ئی ختم کړی، نړیوال کمونیزم ئی نړولی، دیوی تاریخی کارنامی افتخار ئی ګټلی، د شلمی پیړی بیوزلو انسانانو ته ئی دیوه مغروره شیطانی قوت د نابودی زیری راوړی او بشریت ته ئی دنجات او ژغورنی لاره برابره کړیده او داټولـ..

نو د ی ټولو سره سره باید اوس د دوی غوښتنه پوره شوی‌وای هیلی ئی پلی شوی‌وای، امیدونه او ارزوګانی ئی د عمل په ډګر کی مجسم ښکاره شوی‌وای او...

خوله بده مرغه، په ډیر تأثر سره چه زموږ ماتی خوړلی دښمن ډیر مکار، او ډیر دوکه باز وو، هیڅکله ئی د خپلی جنګی ماتی خبرونه زغملی شو، دا پری ډیره سخته تمامیده چه زموږ ولس دی له داسی یوی لوی ویاړ سره مل خپل وطن ته ستون شی. دنیادی دسرښندنو داروښانه او دافتخاره ډك نتائج وویني، او د شوروی دماتی خبر دی په خپله حقیقی بڼه کی نړیوالوته ورسیږی. دښمن پخپله شیطانی چالاکی زموږ د ضعف او کمزورتیا نقطی موندلی وی، زموږ د دی لوی افتخار د سپوتاژ زیرمی ئی پیدا کړیوی او زموږ د ویاړ دنابودی خورا اسانی لاره‌ئی په ګوته کړیوی.

دښمن په ډیره مکارانه توګه د خپلی شرموونکی ماتی وروسته زموږ په وطن کی داسی دردوونکی پیښی را مخکی کړی چه په را منځته کیدوئی د دغه انسان دښمنه طاغوت ټولا ورډ اصال د خلکو د ذهنونو ووتل او حالات داسی شول چه ډیرو ساده لوحو زموږ په هیواد کی د کمونستانو او دهغوی د بادارانو د واکمنی دوره دنننی انارشی په پرتله غوره او بهتره ویبولله. او البته دا ټکی به هم په خپل ځای کی تریو حده ریښتیا وی، زموږ په وطن کی د کرسیو او منصبونو د ساتلو او ګټلو جګړو چه دیو نړیوال منظم پلان په اساس زموږ په ولس تحمیل شویدی او دوامداره لویی رنګ ورکړیشوو، زموږ د ولس پرهرونه ئی له سره تازه کړی،د څوارلس کلنی معرکی د بی مثاله قربانی یوه بدنامه پیښه ئی را منځته کړه.

خو ددی ټولو سره سره باید تاریخ د ولس دانستره قربانی، دالویه فتحه، دا ځلانده پری پخپله حافظه کی ژوندی و ساتی او هیرئی نکړی ځکه همدا وتاریخ دنده ده.

په همدی ډول تاریخ دنده لری چه زموږ د خاوری، زموږ دقوم زموږ د کونډو، زموږ دیتیمانو او زموږ د شهیدانو د ارمانونو سره جفا کونکی شیری راتلونکو نسلونو ته بربنډی کړی، او داهم د تاریخ دنده ده.

د طالبانو د اسلامی غورځنګ د ډلو پیچیانو جهاد چه د جهاد د ثمرو دلاسته راوړلو، دجهاد د اصالت دپلی کولو، دجهاد د اهدافو په تحقق رسولو، دیوی خطرناکی عالی توطیی د ختنثی کولو، او په وطن کی د بربریت د ختمولو لپاره ئی پیل کړی هم د هیواد د راتلونکی تاریخ یوه نوی دنده جوړوی چه تاریخ باید د هیواد دغه ویاړ منو پیچیانو یاد په خپله ذاکره کی

۴ مخ

ترانه

بریښ

غورځنګ پر استبداد دی، غورځنګ د طالبانو
ضامن دعدل او داد دی، غورځنګ دطالبانو
دښمن د هغو چادی، جهاد بی چی برباد کړ
په لمسه ددښمن یی راپورته بل فساد کړ
دښمن دهر فساد دی، غورځنګ دطالبانو
ضامن د عدل او داد دی غورځنګ د طالبانو
روس تللی په یو لاره، په بله بیا راستون شو
نژادیی کړ راوړاندی، ناکام بی چی کمون شو
دوهم مخ دجهاد دی، غورځنګ دطالبانو
ضامن دعدل و داد دی، غورځنګ دطالبانو
عذاب چی دا حزابو، نازل مو په ملت شو
جنګونه، تریګنی، شوی، خراب زموږ حالت شو
دنوی ژوند ایجاد دی، غورځنګ دطالبانو
ضامن دعدل و داد دی، غورځنګ دطالبانو
چی ګرمه ټوپکیانو، هیواد کښی هنګامه کړه
پر مال او پر ناموس یی دخلکو ورحمله کړه
په مخ کښی یی ایستاد دی، غورځنګ دطالبانو
ضامن دعدل و داد دی، غورځنګ دطالبانو
نارام به تر هغه وی څو جوړه آرامی شی
ورانکاری ټوله ورك شی، شروع بیا آبادی شی
ژغوروونکی دهیواد دی، غورځنګ دطالبانو
ضامن د عدل و داد دی، غورځنګ دطالبانو

دحقیقت اسرار

غروال

څوك خبر د حقیقت په پټ اسرار دی؟ چی نصیب کښی یی فایدی دی که اضرار دی!
چی کاږه شول فلك ونیول په غیږ کښی څوك چی سم وو دفلك دسترګو خار دی
چی ترجیم په شان به تل په ملا کاږه وو برصیصا په شانی ډیر لایق دنار دی
حقیقت ته رسیدل صداقت غواړی صادقان ښکلی ګلونه دګلزار دی
الهی انوار پر هغو باندی اوری چی کوږ نه درومی روان په سمه لار دی
څوك په مینه ددنیا کښی لیونی شول څوك هم مست په محبت دکردګار دی
په ګریوان کی دی سر ښکته کړه غرواله چی دی څه شی رانیولی په بازار دی

نعت شریف

پاك رسول ﷺ چه کوم ساعت په جهان راغی
په اغیارو هغه وختی لړزان راغی
بتان رب ته په سجده شول په کعبه کښی
چه دنیا ته د دوو کونو سلطان راغی
بیا دحق په لورتګل دتللو اوشو
رهبرئ ته چه رهبر دکاروان راغی
چه تشریف دنیاته دوی کوم ساعت راوړو
په شیطان باندی بی حده خفګان راغی
رڼائی د اسلام راغله په جهان کښی
کوم ساعت چه د اسلام نګهبان راغی
کتابونه نور همه واړه منسوخ شو
پاك رسول(ص) باندی چه ښکلی قرآن راغی
فیصلی په انصاف ټولی هغه دم شوی
چه منصف په حقیقت دمنان راغی
تول بالا شو داسلام په کل جهان کښی
په کوم وخت چه داسلام قدردان راغی
هر ځای مینه محبت او روورولی شوه
چه رحمت عالمین درحمان راغی
د ظلمت تیاری شوی ورکی همه واړه
دی دنیالره چه نور تابان راغی
رسم ورك شو رواج ورك شه په هر ځای کښی
ژوند دپاره هر ځای ښکلی عنوان راغی
په هر زره کښی رڼایی دحق پیدا شوه
چه درب دلوری ښکلی عرفان راغی
زندګی دهر چا شوله په سکون کښی
چه محبوب خیر البشر دسبحان راغی
دعشاقو مینی ټولی شوی بدلی
دی دنیا ته چه د مینی جانان راغی
د یوسف(ع) د حسن نوم دخلقو هیر شو
چه حسین درب متین کوم زمان راغی
وحدته دغه ستا خوش قسمتی ده
چه صفت دی د حبیب(ص) په زبان راغی

لغزش بزرگان

روزی امام اعظم ابوحنیفه دید
طفلی که می دوید شتابان میان لای
گفتا مکن شتاب که می افتی برحی
گر پای کوچك تو بلغزد کمی ز جای
خندیدطفل وگفت نگه کن تو پای خویش
کز لغزش تو خلق خدا میفتد ز پای
«خلیلی»

د ادب ملغلری

ملا اسدالله حنیفی

چی عمر صفت شی

په کلیو ګرځه کنډوالی کورونه وران لټوه
ورانو جنګړوکی یی موره ماشومان لټوه
چی د ماښام په ترګمو کښی یی خراغه ناست وی
هغه بی وسه اوښی کسه یتیمان لټوه
چی د الله په لار کښی سر ښندی په مینه مینه
داسی د خدای په دین مین ښکلی حوانان لټوه
د هر مظلوم په درد خبر شه چی عمر صفت شی
په نیمو شپو ګرځه کوڅو کښی بی وزلان لټوه
د تکبیر چیغی زمزمه کړه له جیحونه پوری
په بخارا، ترك، تاجك کښی مؤمنان لټوه
هری نه واخله ترکشمیره پرګنی کړه ویښی
د بت شکن محمود په مینه کښی زلمیان لټوه
د حق آواز د اسلامی تحریك شپیلی نه پوکره
ویښ شه له خوبه دریدلی مسلمان لټوه
حنیفی پاڅه د باطل پرمخ چپیره ورکړه
متی را نغاړه توره واخله طالبان لټوه

ویونکی: ن.ر. خلیلی بابکرخیل

نعت رسول اکرم ﷺ

چی خاتم الانبیاء دی محمد رسول الله دی
په حق چی تل ګویا دی محمد رسول الله دی
په مکه کښی زیږیدلی مدینه هم پی نازیږی
د مؤمنو چی پیشګوا دی محمد رسول الله دی
ټول بتان شول سرنګونه دی چی راغی دی دنیا ته
چی دوستدار د کبریا دی محمد رسول الله دی
یو نایاب غونډی ګوهر دی د دنیا په سمندر کښی
چی بادشاه د اولیاء دی محمد رسول الله دی
دا خاکساره امتی د شفاعت طمع لرینه
تل چی وږ د دهٔثنا دی محمد رسول الله دی

شیخ فریدالدین عطار

بارگاه حقیقی

ای دوست این جهان که علی الحق جهان ماست
آنست که بارگاه حقیقی از آن ماست
تو سر بهرچه در نظر آید فرو میار
کاین هرچه هست ازجهت امتحان ماست
هر برګه و هر گیاه که از خاك می دمد
هر یك ز درد و حسرت ما ترجمان ماست
یك ذره نیست جمله بروی زمین مگر
این ذره ای که هست تن نا توان ماست
یك شربت آب می نتوان خورد در جهان
کاین کوزه های خاك تن ناتوان ماست
عطار راه یافته از نور رهنمای
در راه راست راهبر کاروان ماست

دطالبانو سوغات

طالبان لاړل په دین ایثار کړی
په لوړ همت د محرب ښکار کړی
مقسد که څومره عظیم مکاردی
په عون دخدای(ج) به له ملك فرار کړی
هیواد که څومره په اورلمبه شو
رب العزت به تری چوړ ګلزار کړی
که اوس ذاغان په ګلو ناست دی
بلبل به بیاګل په چغار کړی
حسینی وېری دا هیلی مکړه
رب به خزان په ملك بهار کړی
طالب العلم عبدالله «حسینی»
له باغبانانو څخه

احمد شاه وحدت

قبرته

قره ورځ د ژوندون پایه اړه ومه
په قدم قدم زه ستاخواله درځمه
شپه او ورځ به تصور کښی می هم ته یی
په داځه که دی په زوره هیرومه
د دنیا عقبی ترون په تاکښی کیږی
سترګی نانه بیرته څنګه واړومه
چه دشپی تیاری ته ګورم ته راباد شی
دلحد تیاری به څنګه روڼومه
فلسفه د ژوندون ګرانه ده حل نه شوه
پس له مرګه ژوند به څنګه تیرومه؟
څوك دلری نه آواز په غوږ کښی راکړی
فلسفه د ژوند به زه درسومه
«ستا ایمان» او «نیك عمل» دګلو هاردی
د ژوند ناوی به پری زه ښابسته کومه

د مسلمانی عقیده

غازی خیل

ایمان مفصل :
امنت بالله :

ایمان می راوړی دی (باور می کړی دی) په الله تعالی باندی.

الف: داسی باور چی الله تعالی ازلی او ابدی دی: د ازل معنی داده چی دتیرو زمانی په لوری ملیاردونه پیری مخکی پام وکړئ داسی وخت به نه مومئ چی په هغه کی د الله تعالی ذات جل جلاله او صفتونه نه وی: بلکی د زمانی له پیدایښت نه لا مخکی موجود ؤ.

دابد معنی داده چی: په راتلونکو زمانو کښی به داسی وخت رانه شی چی دالله تعالی ذات جل جلاله او صفتونه نه وی: همدارنګه به جنتیان په جنت کښی او کافران په دوزخ کښی ابدی وی.

(ب) داسی باور چی: الله تعالی یو دی نه یی شریك نه ساری او نه مثل شته.

(ج) داسی باور چی: الله تعالی یو کم سل نومونه او دکمال صفتونه لری.

یو کم سل نومونه یی هغه دی چی په حدیث مبارك کښی راغلی دی. او مضمون یی داسی دی: د الله تعالی نه نوی (۹۹) نومونه دی څوك یی چی یاد کړی جنت ته به ننوزی.

صفتونه یی: یو قسم ذاتی او بل قسم فعلی دی:

ذاتی صفتونه یی : حیات، علم، قدرت، اراده، سمع، بصر، کلام او تکوین دی.

حیات (ژوند) دالله تعالی ذاتی او ازلی صفت دی: الله تعالی حی (ژوندی) دی د حیات په صفت سره نه په روح او بدن سره.

علم :-(پوهه) د الله تعالی ذاتی او ازلی صفت دی: الله تعالی علیم او عالم دی دعلم په صفت سره نه په دماغ، زړه او ذهن سره: له موجوداتو او معدماتو، له کلیاتو او جزیاتو یو شی هم دده له علم څخه پټ نه دی.

قدرت: (وس او توان) د الله تعالی ذاتی او ازلی صفت دی: الله تعالی قدیر او قادر دی. د قدرت په صفت سره نه داسی لکه د مخلوق قدرت چی په بدن، صحت، اندامونو او آلاتو سره وی: توربیا

دسیکولیریزم خطرته پام کوی!

اسلام او دیموکراسی

مولوی عبدالحکیم «مجاهد»

دیموکراسی یوه یونانی مرکبه کلمه ده چی له Demo خلك او د Cracy حکومت څخه جوړه شوي ده چی معنی یی ده د خلکو حکومت او په اصطلاح کی ددی له پاره ډول ډول تعریفونه شوي دی، خو موږ یی دلته یواځی په یوه مشهور تعریف باندی کفایت کوو چی تقریباً اتفاقی دی، دغه تعریف د امریکا د جمهوری کوند مؤسس او د هغه هیواد سابق جمهور رئیس ابراهیم لنکن کړی دی. (Demecracy is a government of the peeple by the feofle for ghe peeple).

دیوکراسی: حکومت د خلکو په واسطه دی خلکو لپاروه د خلکو) په عربی کی یی په عینی مفهوم باندی تعریف کوی والدیوقراطیة هی حکم الشعب بالشعب للشعب» دیوکراسی د خلکو حکومت په خلکو لپاره د خلکو.»

دیوکراسی یا غربی جمهوری، اصلاً د ظالمانه باچاهی او عیسائی تحریف شوي مذهب پاپائیت په خلاف د خلکو عکس العمل وو، چی څانونه د مطلق العنانه باچاپانو له ظالمانه سلوك، او عیسائی مذهبی مشرانو له استبداد دی واکمنی څخه وژغوری دوی د دواړو د حاکمیت او د واکمنی په خلاف د خلکو د حکومت او واکمنی غوښتنه وکړه، او حتی په دی ترځ کی یی د خدای جل جلاله او خپل رسول الله علیه السلام له حکم څخه هم انکار وکړ دا ځکه چي هغه هم د حکومت او قانون په چوکاټ کی دی او هغه د منلو وړ نه دی.

خو دا هرڅه د اروپایی ټولنی پښیځ کی د شاهی استبداد او د عیسایی تحریف شوی رهبانیت په خلاف د عامو خلکو عکس العمل ؤو، د دیوکراسی منشأ یعنی د پاپانو حکومت له اسلامی دین او اسلامی ټولنی سره هیڅ ډول مماثلت او اړیکی نه لری، دا ځکه چی اسلام نه د مطلق العنان ملوکیت طرفدار دی او نه خو د دین په خلاف ددینی پیشواګانو او یا ملایانو د استبدادی حکومت غوښتونکی دی اسلام هغه دین دی چی اروپایان د جهالت په تورو تیارو کی ورك ؤو. د پاچاپانو، زمینداراتو او سرمایه دارانو ظالمانه حکومتونو، عام خلك د ځان غلامان ګرزولی وؤ. د عامو خلکو د سیاسی آزادی مفهوم یی هم نه پیژاند. خو دغه اسلام ؤو چی د شخص د واکمنی په ځای یی لومړی ځلی نړیوالو ته د شرعی قانون د واکمنی او حکمرانی سیستم وروښود. عام خلك او د هیواد حکمرانان یی په یو صف کی سره ودرول او د قانون په وړاندی یی یو برابر اعلان کړل. (عربی په عجمی، سور په تور باندی هیڅ ډول فضیلت نه لری، خو یواځی په تقوی سره، «حدیث شریف») مخکی له دی نه چی د دیوکراسی په اساساتو باندی خبره وکړو او هغه د اسلام او بشریت په خلاف ثابته کړو غواړو چی د خلکو د سیاسی آزادی په اړوند د اسلامی نظام هغه سیاسی آزادی چی خلکو ته یی ورکړی د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د یوه ستر شاګرد حضرت معاذ بن جبل رضی الله عنه په ژبه ووایو چی هغوی عملاً د اسلامی نظام له دغی سیاسی آزادی څخه برخمن وو. حضرت معاذ بن جبل رضی الله عنه، کله چی د روم امپراطوری ته د اسلامی دولت سفیر په توګه په یوه ماموریت باندی تشریف وړی، هغوی ده ته د استقبال په ترځ کی خپل مادی شان او شوکت ورښیی څو دی مبارك په هغه باندی مرغوب کړی او بیا ده څخه د اسلام د سیاسی نظام پوښتنه کوی چی څه ډول دولت لری!

(نوربیا)

یوه تاریخی پرتله یو تاریخی حقیقت

(شهرت ننګیال)

په تیر پسی

احمدشاه بابا دوولس زره مرهټیان چی د پانی پت په جګړه کی نیول شوی وو خوشی کړل په یوه بل تاریخ کی دا شمیر دو ویشت زره ته ښودل شوی او دغویندیانو ته یی دخوشی کیدو پر وخت دوی دوی روپی او یوه یوه شړی هم ورکړه.

همدا اوس د طالبانو تحریك په هرات کی له پوځی اسیرانو سره د همداسی عالی همت او ځوانمردی څرګندونه وکړه: او هغوی ته یی دخوشی کیدو پر وخت، نقدی پیسی او جامی ورکړی او ښه یی ونازول.

دانتقام، کسات او غچ اخیستلو هیڅ اقدام و نه لیدل شو بلکی د خوا خوږی زړه سوی او محبت غبرږی ورته پرانستل شوی.

طالبان غلچکی بړید نه کوی دوی خلکوته اعلان کوی چی له پوځی مرکزونو تاسیساتو لیری شی چی څه زیان ورته و نه رسیږی.

د طالبانو غورځنګ د احمدشاه بابا تاریخ تکرار کړ او همافسی یی تاریخ بدل هم کړ په «وان» اخبارکی د احمدشاه ابدالی تر عنوان لاندی په یوه مضمون کی راغلی:

که څه هم احمد شاه یو زورور پادشاه ؤ، د شاهی تجمل او کر او فریې نه خوښیده له خپل درباره یی‌دهند او ایران د شاهی درباروئو پر تکلفه اداب او رسوم لیری کړی ؤ شاهی تاج یی نه درلود، او په مسنونه سلام به کفایت کیده، د بابا دصالحو او ریښتینو اخلاقو روش او چلند هم همداسی بی الایښه دی، له دنیاوی شان او شوکت نه بی نیازه اوله درباری رسوماتو بی پرزادی احمدشاه بابا به د خمتا (کرباس) جامی اغوستلی یو ځل سوداګرو رنګارنګ بهرنی ټوکران کندهار ته راوړی وو، بابا امر وکړ چی دغه ټوکران ټول وسوځوی. د بابا په امر ټوکران وسوځول شول او سوداګروته یی قیمت ورکړل شو، او ورته وویل شول چی په راتلونکی کی دغه ډول بهرنی او ګرانبیه ټوکران رانه وړی، پدی کی د احمدشاه بابا حکمت داؤ چی دخپل دربار اراکین او نور رعیت پدی پوه کړی چی دخپل وطن خمتا له موږ سره ډیره ښه ښکاری، دارنګارنګ ټوکران می ځکه وسوځول چی د قام ځلمی پری روبرو نشی او بیایی کوم بل سوداګر راوړولو ته زړه ښه نکړی.

مفکر احمد شاه بابا پدی ښه پوهیده تر څو چی دیوه مصلح او مبلغ په عمل کی د مطلوبو اصلاحاتو او ابلاغ عملی نخښی ونه لیدل شی په وینا او احکاموکی یی اغیزه نه پاتی کیږی ځکه خو یی هغه څه چی له ولس او خلکو یی غوښتل پخپله یی دمخه عملی کول.

احمدشاه بابا دافغانستان یو ملی او متلی مشر ؤ، موجوده افغانستان بنسټګر ؤ نن چی زموږ هیواد د ډول ډول توطئو او سازشونو له ګواښونو سره مخامخ دی او د سالمیت او یو والی پر ضد یی کورنیو او بهرنیو دښمنانو مذبوحانه هلی ځلی پیل کړی د طالبانو اسلامی تحریك د هیواد د بقا، سالمیت، ملی یو والی او محمدی شریعت د نفاذ لپاره په علمی او عملی جد او جهد لګیادی او دخدای په مرسته او نصرت او دملت د تائید او ملاتړ له مخی به د اسلامی نظام د بشپړ تینګښت په لار کی دورومښی بری او برلاسی له مخی د ملت دکړاوونو او مصیبتونو دوران پای ته ورسوی. ان شاء الله

دالله (ج) سنت هم دادی

(ع رحمانی)

هوا که په ریښتیا هم د اسلامی تاریخ حقیقتونو ته ځیر شو و به ګورو چه کله هم دځمکی په مخ د حق په مقابل کښی طاغوت او سر غړوونکی پیدا شوی په ملك او سیمه کښی ئی د زور ظلم په چلندئی د بی وزلو هستی تر خپو لاندی کړی دوی د خپل قدرت په مینه غصب، قتل، قتال او وینو بهولو په خپله سیمه کښی ئی اخلاقی، مذهبی، عقیدوی، مدنی او جزائی قوانین تر پښو لاندی کړی او له الهی احکامو څخه ئی په تکبر او غرور سره مخ اړولی

خو، د اسلامی تاریخ زرینی پاڼی په دی ګواه دی هر کله هم د دنیا په مخ د حق په مقابل کښی داسی طاغوت او کبر جن څواك رشد او ترقی وکړی چه په خپله شرمیدلی اخلاقو دومره مست او مینه وال شی چه هره ګناه ثواب ګڼی بلکه د محرماتو په ترلاسه کولو کښی کوښښ هم د ثواب کار ګڼی، عصمت ته په هیڅ قیمت قایل نه وی، د خپلی ټولنی بی عصمتی خپله بهادری ګڼی، ظلم، استبداد، فسق، فساد، عیش عریانی او بی حیائی ترویج کوی.

بیا په داسی حالکښی دالله(ج) سنت په دی روان دی چه د هغه طاغوت په مقابل کښی د حق ریښتنی خوځښت پیدا کوی چه دهغوی هدف یواځی د الله رضا او د الله په ځمکه دالله احکام او شریعت پلی کوی، هغوی له هیچا مزدوری نه غواړی بلکه (دهغوی اجر په الله دی) هغوی د حق پلویان دالله(ج) په دوستی کښی دبل چا د دوستی یا دښمنی باك هم نه لری.

دی ته په اسلامی تاریخ کښی د حق او باطل جګړه ویل کیږی دغه معرکه په اسمانی کتابونو کښی د هری زمانی له حق پلوه سره پیښه شوی.

خو، دحق پلویان په هر وخت د الله(ج) په الهام پیام او کلام روزل کیده او دطاغوت پلویانو په هر وخت له شړل شوی شیطان څخه ګمراهی او کجروی زده کوله.

داچه د حق پلوي به تل په الهی الهام اوپیام سمبال وه طبعاً به دا داسی اشخاص او ذوات وه چه الله(ج) دخپل دښمن دمقابلی لپاره ثابت قدم روزلی وو، هغوی به دژوند په هره برخه کښی په لوږه، تنده، ستړیا، سختیو او ترخو کښی د الله(ج) د احکامو متینک او خپل ځانته نه [illegible]

مکلف ګڼل ترڅو د الله(ج) کلیمه لوړه حکم ئی حاکم او په شریعت ئی خلك لاړ شی.

د اسلامی تاریخ په روانه پیړیءکښی د ځمکی په سر د جهاد عنوان اعلان او پیلامه د افغانستان له مجاهد ملت څخه د جیدو علماؤ په فتوی پیل او دنړۍ مسلمانانو ته ئی الهی سنت عملاً ژوندی ور وپیژاند.

بدبختانه! چه د ځینو خلکو په جوړښت د جهاد دا سپیڅلی ارمانونه په سیند لاهو کیدوته ورنږدی شوی وو.

هغه وچه د طالبانو د اسلامی تحریك پاڅون دا ارمانونه وژغورل، که د الله کړه وه ډیر نږدی دی چه د ظالم، غاصب، قاتل دا بی بند باره اداره به ددی یا شهامته څواك له برکته له مینځه ځی او په ځای به ئی یوسوچه اسلامی نظام مسلط کیږی.

خو، د طالبانو اسلامی تحریك دي په هوښیاری خپل اسلامی انقلاب او پاڅون [illegible] وجیبه ده.

دا ځکه چه یواځی همدا څواك او نهضت دی چه دمسلمان او مجاهد هیواد په وینو کښی دلت پت لړلیو شهیدانو کورنی، دکونډو یتیمانو اونیکی او فریادونه، هیلی او ارزوګانی په همدوی پوری تړلی دی.

طالبان دا خپله نیکمرغی ګڼی چه دخپل قربان شوی شهید په ارزوګانو پسی خپل ځان نه په سپین بلکه په ګلګون کفن کښی نغښتلی د حماسو له ننګیالی میدان څخه د شهادت په تلپاتی لار روانکړی.

طالبانو پښیلی ده چه په خپل برحق پاڅون او خوځښت سره په غم لړلی او ګړیدلی هیواد ته له دښمن څخه د هغو کونډو، یتیمانو او یونیم ملیون شهیدانو انتقام واخلی چه خپله ټوله شتمنی یی پدی لارکښی قربان کړی ده.

د طالبانو سپیڅلی اسلامی تحریك پوهیږی!

چه طالبان څوك سره بیلولی نه شی، دوی مفکوږی پیوستون لری دوی په خپلو کښی مطیع او متونکی دی، یو بل ته احترام لری، ځکه ئی په خپلو کښی داخوت او ورورۍ لاسونه داسی کلك کړی چه شیطان ورڅخه چوله نه شی موندلای.

٤مخ

د ضلع کوهات کهی ...یمی د کمپونو ...

خبر ځای وړاندي لیکي غونډه د قرآن کریم د څومبارکو آیتونو په تلاوت پیل، وروسی د ټولوو کمپونو عالمانو مشرانو او سپین ږیرو د طالبانو د اسلامی تحریك د رواملازی تائید او له طالبانو سره یې یو ځل بیا خپل پیوستون اعلان کړ او د ربانی مخ په ترېدو اداره یې یوه ناروا او مفسده اداره وبلله او له ربانی څخه یې مطالبه وکړه چې په ګران افغانستان کښې دی : ویښو تویولو ته خاتمه ورکړي او قدرت دی ژر تر ژر د طالبانو اسلامی تحریك ته پرېږدی.

وروسی د کمپ استوګنو د ښوونې روزنې او نورو ورګښتو کارونو د لا ښه والی او د منکراتو د مخنیوی په خاطر د کمپ د علماء کرامو مخورو او سپین ږیرو څوا اصلاحی شوری جوړه چې د رایو په اکثریت سره خلیفه صاحب عبدالرشید«همائی» د رئیس، مولوی صاحب ملتان د مرستیال، اسدالله اخند زاده د ناظمٌ ، عبدالباری اخند زاده د نائب ناظم او مالی چارو مسؤول په توګه تعین شول.

او دغه لاندی اشخاص مولوی صاحب عبدالرحیم، خلیفه صاحب نظر محمد، مولوی صاحب عبدالواحد، مولوي صاحب هاشم ، مولوی صاحب ...بداکبر، خلیفه صاحب اسماعیل جان، مولوی محمد، مولوی صاحب عبدالرحیم، میا صاحب میرعبدالقدوس، مولوي صاحب عبدالهادی، مولوی صاحب سیدالرحمان، مولوي صاحب شرف الدین، مولوی صاحب یار محمد، مولوي صاحب اسماعیل«وردك»، مولوي صاحب محمد الله، مولوی صاحب طاهر، مولوی صاحب رحمت اللهٌ، مولوی صاحب محمد رسول، کبیرجان آغا، مولوي صاحب طاها، ملا محمد نظیم ، مولوی صاحب محمد نذیر،، ملا ثنائی، ملا خلیل د لوګر د کمپ له سپین ږیرو څخه ملك شیر خان، ملك خان جان، ګل میر، نادرخان، حاجی نیکو، حاجی احمد زی، ملك میر حبیب، حاجی بسم الله، حاجی میر محمد نبي د خساری کچه پخه د سروزو د کمپونو څخه ملك حبیب الله، حاجی حنیف، حاجی عالم جان، حاجی غلام سخی، معین بورګی، اکبر نظر خیل، بیرك قوماندان، حاجی موسی جان، حاجی شاهور، حاجی قمری، حاجی خاصه دار، محراب الدین، عبدالحمید، ملك یار محمد، شیر محمد منګل، حاجی خان میر سروان خیل، حاجی ګل، ملك نور، حاجی جمعه داد، حاجی علی محمد، شیر آغا، حاجی لعل ګل شاه خیل، امیرجان متانی، حاجی ګل شمشیر خیل، د شوری د غړیو په توګه وټاکل شول.

خبر ځای زیاتوی د غونډي په پای کښی په ګران افغانستان کښی د بشپړ امن او اسلامی نظام د راتلو دعاو شوه.

* * *

ملی گرایی در خدمت ...

نظامی گرفته و پرورش بدهند و بر اوشان سرمایه گزاری بکنند تا توسط آنها مرام شوم خود را بدست بیاورند.

لذا تمام و سائل ارتباط جمعی و سیستم های گمراه کننده بکار گرفته شد که در نتیجه کارهای کلیدی بدست همین تربیت یافته گان غرب صلیبی سپرده شد و مسلمانان با ایمان و مخلص از دوایر و خدمات بنیادی و کلیدی بیرون رانده شدند و ادارات تعلیم و سائل ارتباط جمعی (جراید، رادیو، تلویزیون) بدست کسانی در آمد که خصوصیت اسلامی و هویت شرقی خویش را از دست داده و غربگرا، شده بودند. غرب صلیبی به رهبری محمد علی پاشا به این ارتباط کار می کرد که ناپلیون از طریق شمشیر و برچه نتوانسته بود که بکند، این خائین تحت تأثیر فرانسه قرار گرفت و در صدد فرانسوی کردن مصر بر آمد. و غرض برآورده شدن این مأمول شاگردانرا که اکثر او شانرا شاگردان نظامی تشکیل میداد به فرانسه فرستاد تا شستشوی دماغی و فکری شوند. و اوشان بعد از بازگشت به وطن خود منادی و مبلغ فرهنگ، کلچر غربی میشدند. و در داخل دروازه های مصر را بروی میشرین باز کرد، و آنها مدارس و دانشگا هایی بمیان آوردند که همه، اوشان غرض تعمیم فرهنگ غرب کار میکردند، این دانشگاها مرکز بسیاری از افکار و نظریات تخریبی شناخته شدند ور(مصر)، که یکی از همین نتائیج زشت که بسیار خطرناك در تغییر و دیگر گون کردن جهان عرب تمام گردید مفکوره، ملی گرایی بود و طوریکه دیده شد ملی گرائی عربی به اثر لطف و توجه داعیان خود که بخش اعظم اوشانرا نصاری تشکیل میدادند تقریباً دین جدیدی شناخته شد و جای اسلام را تنگ کرد طوریکه علی ناصرالدین در حاشیه، کتاب خود صفحه، ۳۸ (قضیة العرب) میگوید: (عربی بودن نزد ما ملی گرایان عرب که مؤمنان اصیل را از مسلمانان و مسیحیان تشکیل میدهد دین جدید است، اگر هر عصر و زمان پیامبر مقدس داشته باشد ملی گرائی عرب پیامبر این عصر و زمان است).

از طریق همین تربیه شده گان غربی و ملی گرایان فاسد که ممثلین و کارکنان تمدن غرب و علم برداران متهدم گردانیدن بناء اسلام در مفکوره و ذهن فرزندان اسلام میباشند، نفوذ خلافت عثمانی بر شرق تضعیف گردید، مصر و سوریه به دوکشور غرب زده از ناحیه اندیشه و طرز زنده گی مبدل شد، قوانین غربی به جای قوانین شرعی نفوذ پیدا کرد و جهان عرب آهسته آهسته به آغوش استعمار فرانسه و انگلیس قرار گرفت.

ادامه دارد

[illegible]

په زړینو ټکو لیکلی وساتی تر څو د راتلونکو وفاداره نسلونو د افتخار او دغدارو جفاکارو د دار وسیله وبلل شی.

هو دا ټول د تاریخ وجیبه ده فریضه نی ده، پدی مامور دی د راتلونکو نسلونو په خپرو مسؤول دی.

د اتلانو یادول، دقاتحانو ذکر کول، دویاړ منو ستایل له یوه پلوه، او دغلیمانو رسوا کول، د جفاکارو شرمول، د سازشکارو غندل او... له بل پلوه ټول هغه حقائق دی چه دتاریخ نی د پرملا کولو مسول بلل کیږی.

هو همداسی وه، همداسی ده او همداسی به وی او همدا تاریخ دنده ده. زموږ د وطن ننني پیښی به هم په تاریخ کی په خپل حقیقی منظر سره ثبت وی. ظالم به ظالم ګڼی، خائین به خائین، وطن فروش به وطن فروش، غل به غل، لوټمار به لوټمار، قاتل به قاتل او ... بلی.

په همدی ډول فاتحین به فاتحین، ویاړمن به ویاړ من او خپلواکان به خپلواکان نوموی او داټول به زموږ د ننني تاریخ روښانه پیښی او ځرګندی وقائع وی او همدا دتاریخ دنده ده.

آشتیهای ...

بلی، اگر این همه فروتنی ها و تواضع پیش یك مسلمان و همرطن بخاطرحصول مقصد مقدس اسلامی، بخاطر رفع مشکلات بی شمار مسلمانان و بخاطر آشتی و اخوت اسلامی و جلوگیری از ضیاع ارواح و اموال و اصلاح ذات البین بود، همه خیر و حسن و صاحب آن ممدوح است.

متأسفانه که قرائن زیاد دلالت بر این میکند که این همه برای حصول یك مامول فانی و رفتنی و زود گذر است زیرا: آنهائیکه سالهای سال همه تن لاقهایی دعوت بود و جهاد و همه جان دعوای حکومت عدل الهی و قیام حکومت اسلامی بودند بر نهج خلافت راشده، رضی الله تعالی عنهم.

آنهمه شعار های زبانی و دیواری و آن همه نعره ها و میز کوبی ها وقتی پوچ و بی محتوا و کاذب بر آمد که محبوبه هوس جاه و اقتدار را به آغوش کشیدند، بعد از این آن همه نعره ها و شعار ها، آن همه تحریر ها و تقریر های ادبی و موزون هذیاناتی بیش نبود که اثری و نشانی ، یادی و نامی از آن نماند، آنگاه بگفته شیخ سعدی شیرازی رحمه الله علیه «معلوم شد که حاجی نیست».

اقامه، حکومت عدل الهی و خلافت راشده را چه میپرسی؟ از ضعیف ترین حکومت مسلمانان که تاریخ بیاد داشته باشد نه تنها اثری در حکومت شان دیده نشد بلکه همه فحشا، و رشوتها ، همه قتل و غارت همه فجایع و مصیبت ها را حواله مسلمانان مجاهد و غیور و با شهامت افغانستان کردند، مصیبت های بود که دوره، شرمنده، کمونیستان بی دین و بی ناموس آن را ننگ و عار میدانست. آنهائیکه در خطابه ها و نوشته های خود بار ها میگفتند و می نوشتند که: «ما در هر طرحی که به وحدت صفوف مجاهدین و ساختار حکومت اسلامی منتهی شود برای هیچ مقام و منصبی کاندید نیستیم و از آن پشتیبانی خواهیم کرد.»

آنهائیکه به مجاهدین خود اعلان میکردند که با هیچ کس از مجاهدین جنگ نکنید اگر چه شما را خلع سلاح کند، وقتیکه تحریك اسلامی طالبان(اهل امانت) ظهور کردند تا آنجا به دل گرمی ستودند که بکابل نزدیك میشدند، زمانیکه نوبت خلع سلاح (سپردن امانت ملت به اهل امانت) رسید، دیگر آماده نبودند که به وعده های زبان و قلم وفا کنند، هم کاندید بودند که میگفتند «آخر ما هم جهاد کرده ایم، تقوای خود را به هیچ کس نمی دهیم». و هم مانع تسلیم امانت بودند، بلکه با اهل امانت، اشجار و نهالان دین و اولیاء الله به عداوت مبین و مقابله مسلحانه برخاستند و دوام دادند و هزاران را به شهادت رسانیدند. «وانا لله وانا ...»

دراین ابتلاء هرچه را که کمایی کرده باشند در ذخیره، عقبی و نامه اعمال شان ثبت است. اکنون اگر سر وقت نیست ادراك پایان وقت هم علامت عقل است اگر از خلوص نیت و صمیمیت عمل با تحریك اسلامی طالبان کنار ایند و عذر بخواهند و باز همه با هم به اشتراك دیگر مسلمانان و مجاهدین به حل مشکلات اقدام نمایند ممکن و امید است که ارمان شهدای کرام -رحمة الله تعالی علیهم- و آرزوی ملت مسلمان و غیور ما و همه امت اسلامی بر آورده خواهد شد.

والله الموفق

[illegible]

دوی په خپلو کښی مطیع او منونکی دی، یو بل ته احترام لری، ځکه ئی په خپلو کښی داخوت او وروری لاسونه داسی کلك کړی چه شیطان ورڅخه چوله نه شی موندلای.

طالبان پوهیږی چه د جهاد پیغام نړی والوته چاورکړ.

دارنګه هم داخپله دنده ګڼی چه دهر باطل او طاغوت د مقابلی لپاره ځوك رالیږل شوی. ځوك تربیه شوی او دا دچا میراث دی.

طالبان دهغه لورهمت په څلی ناست دی چه دنړی ګوټ ګوټ ته ئی د اجرات ور ویاښه چه د زور او طاغوت له حاکمیت څخه ئی ازادی ترلاسه کړه، نن هم طالبان دهغه اصالت په درشل کښی دی چه دخپل ملت رښتنی جهاد او پاځون څخه دفاع وکړی او ثمره ئی په خپله تر لاسه کړی. دطالبانو اسلامی تحریك د هغی ټولنی نوم دی چه هر وخت ئی دباطل او طاغوت سره خپله مقابله ترټاکلی پولی پوری رسولی ده. اوس به هم ان شاء الله خپله مقابله تر خپل بری پوری چلوی.

د اسلامی حجاب شرطونه

د اسلام مقدس دین د ښځی د کرامت او عزت لپاره د حجاب اهمیت تأکید کړی دی، مسلمانو خویندو ته ضروری ده چی د اسلامی حجاب د مراعات لپاره لاندی ټکی په نظر کی ونیسي:

۱-حجاب بایدله ټولی ښځی څخه چرشوی وی.

۲- باید لوی او پراخه وی چی د بدن غړی ترینه ښکاره نه شی.

۳- داسی روښانه او ښائسته رنګ باید ونه لری چی د خلکو نظر جلب کړی.

٤- دنا رینو له جامو سره ورتوالی و نه لری.

٥- د کافرو ښځو جامو سره شباهت و نه لری.

٦- خوشبوی و نه لری.

۷- ټول بدن یې باید پټ کړی وی.

سپی خبری

* که نیکی کول غواړی نو مرګ ته مخکښی ئی کوه.
* د بی حیایی خبروته نژدی مه ورځه.
* له ناپوهانو سره یوازی د ضرورت په وخت کی خبری کوه.
* د الله تعالی احکام لویی او ټوکی مه ګڼه.
* محبت د هغوی سره ساتی چی نیکی وکړی او هیره یی کړی
* عقل د سرو زرو نه هم قیمتی دی.
* وعده پوره کړی ځکه بیا به تپوس درنه کیږی.
* معافی کولو کښی بیړه کول انتهایی شرافت دی.

د صوابی د بره کی په کمپ کی ...

د مولوي صاحب سید ولی«کابل» او مولوي محمد کریم«زرمتی» تر ریاست لاندی د عالمانو اصلاحی شوری جوړه شوه چی د شوری په ترکیب کښي دغه ذوات غړیتوب ری: مولوی صاحب حبیب الله، مولوی صاحب صاحب شاه، مولوی صاحب محمد کریم، صوفی ګل خان، مولوی صاحب محمداقبال، مولوی صاحب محمد نائب، مولوی صاحب حمید الله، مولوی صاحب محب الله، مولوی صاحب ګل کریم، مولوی صاحب امیر محمد، مولوی صاحب جلات خان، مولوی صاحب عبدالحلیم، مولوی صاحب محمد عظیم، مولوی صاحب صاحب زاده، مولوی صاحب عبدالله، مولوی صاحب حمید الله، مولوی صاحب ممتاز، مولوی صاحب سلطان محمد، مولوی صاحب نقیب الله، مولوی صاحب عبدالحنان، مولوی صاحب محمد یوسف، مولوی صاحب وزیر محمد، ملا نورآغا، حاجی صاحب جیلانی، مولوی صاحب جمال الدین، مولوی صاحب محمد مسلم، مولوی صاحب محمود الحسن، مولوی صاحب محمدعمر.

رتل شوی خلقیان او برچمیان ...

اوبو ته و نه رسید چی بلکی ټول اتیا کلن هیکل او نظام یی د دوی د بی ځایه دعوت او رامستولو په پای کی دړی وړی شو، او یا یه د قطبی خرسانو خوی لری چی مقصد یی پوره شی بیا د چا پروانه کوی.

تاسی به له رادیوګانو څخه ددوی د شړلو خبری له ډیره وخته راهیسی اوریدلی وی او لا نوری به څومره واوری؟

دا واړه له دي امله چی دوی د ایمان او اسلام هغه لوی دولت چی الله تعالی یی له بی او قیمت څخه وړاندی پیرزو کړی ؤ، هغه لوی دولت او عزت چی د دنیا او آخرت ټولی ښېګنی، پت، ابرو او درنښت پکښی نغښتی دی، په ارتداد، کفر، د الله تعالی په دښمنی، د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم د هغه د دوستانو او مؤمنانو په دښمنی باندی وپلورلو. دغه سودا چی هرچا کړی ده او یا یی کوی د هغه برخه به په دنیا کی خواری او ذلت او په آخرت کی لوی عذاب وی. نعوذ بالله تعالی منه.

دهلمند ولایت دکرهنی رئیس محترم مولوی محمد ظریف اخند کندهار ولایت ته راغلی او د شریعت غږ رادیو د خبریال سره په خپله وینا کی وویل

د هلمند د ځمکو د یمبی حاصلات د تصدی یوچ پابریکی ته انتقالیږی او پابریکه په خپلو تولیداتو کی کوتجاره، غوړی، صابون او پوستکی تولیدوی د هلمند د کرهنی د لوی ریاست فنی مامورین د هلمند په پنځوس زره جریبه ځمکه باندی د بزګرانو سره مرسته کوی او فنی مامورین او زراعتی لیاری چاری بزګرانو ته ور ښائی. ترڅو ددوی د حاصلاتو سطحه لوړه شی. د هلمند په ولایت کی د ۷٤ کال د سپرلي کمپاین په ترځ کی ٥ - ۱۰۰ لس زره پنځه څلوېښت جریبه ځمکه پومبه او یو میلیون شپږ څلوېښت زره دوه سوه جریبه ځمکه نور نباتات چه په هغه کی لوبیا، نخود، جوار ... کرل شوی او د همدی کال په خزانی کمپاین کی ۲٦٥ زره جریبه ځمکه د غنمو د کرلو له لپاره په نظر کی ده.

چه ددی کال ٪۷۰ اویا فیصده تکمیل او پاتی فلان به ئی په چټکی سره د تکمیل په حال کی وي.

محترم رئیس صاحب زیاته کړه د هلمند ولایت د کرهنی د ریاست په چوکاټ کی ۳ زراعتی پارمونه د کرهنی تحقیقاتی پارم د مالداری پارم او د ونو د زغورنی پارم وجود لری ځکه چی د دی فارمونو اړوند ماشین آلات او د کار وسایل د پخوانی وخت جنګونو کی له مینځه وړل شوی دي، نو ددی لپاره چي د نوموړی فارمونو ځمکه شاره پاتی نشی د ۳۲ زرو جریبو زراعتی ځمکه په اندازه سږ کال په ایجاره ورکول شوی ده. د هلمند د کرهنی ریاست هڅه کوی چی یو شمیر کوچنی پروژی لکه د چرګانو پارم د ونو د نیالګیو د روزنی پارم او حُسنی نوی فروژی د بین المللی موسسو په مرسته دوباره احیا کړی په دی هکله د ځنو موسساتو سره تماسونه ادامه لری.

په روسیه کی د افغان بندیانو ...

د اسلامي تحریك غړیو ته محمد امین جان آغا په روسیه کښی د افغانی بندیانو په هکله وویل: زه د بندیانو په هکله د طالبانو له اسلامی تحریك څخه دا امید لرم چی د افغانی بندیانو په لټون کښی به د تیر په شان خپلو هلو ځلو ته دوام ورکوی. هغه زیاته کړه روسانو ته موږ د خپلو بندیانو په هکله پوره شواهد ښودلی شو. موږ سره د بندیانو د بیا موندلو پوره نښی موجو دی او دا نښي موږ ته زموږ د بندیانو لخوا رارسیدلی. نو موږ د تحریك له مسؤلینو څخه هیله لرو چی د بندیانو په هکله خپل دریځ ته تغیر ورنه کړی بلکی نور هم خپل دریځ د روسانو په وړاندی سخت کړی ترڅو روسان د بندیانو پریښودلو ته مجبور شی.

محمد امین جان آغان زیاته کړه ما د بندیانو په هکله د کمونیستی مزدوری ولی له غړی «اسدالله سروری» نه پوښتنه وکړه هغه وویل: د حضراتو د کورنی د بندیانو په شمول د افغانستان لادرکه ټول بندیان روس ته بیول شوی دی.

د امین جان آغا د خبرو په اړوند الحاج مولوی محمد صادق د تحریك لوړ رتبه غړی و یل: موږ د بندیانو په هکله ټول کوښښونه به کار اچولی ترڅو د بندیانو په هکله معلومات لاس ته راوړو، بلکی موږ روسان ډیته جوړکړی چی هر څوك بندیان او لادرکه کسان لری کولای شی چی روس ته لاړ شی هلته د خپلو معلوماتو له مخی د خپلو بندیانو لټه وکړی. دغه راز دمحمد امین جان آغا د خبرو په رابطه د تحریك لوړ رتبه غړی مولوی محمد غوث وویل: زموږ او ستاسو مطلب یو شي دي خو ددي مسئلی د پاره یو شریك قدم وچتولو ته ضرورت لیدل کیږی.

موږ له هغو کسانو څخه چی په هغه دور کښی په قدرت کښي شامل وو د پوښتنو سره سره په لازم وخت کښي څه کسان روسیی ته لیږو ترڅو د بندیانو دقیق معلومات راوړی.

مولوی صاحب محمد غوث د خپلو خبرو په لړ کښي زیاته کړه: د افغانستان ټول ملت او هغو خلکو ته په کار دی چی د طالبانو د اسلامی تحریك سره خپل غږ غبرګ کړی تر څو په روسانو فشار زیات شی.

* * *

دعشره مبشره (رضی الله تعالی عنهم) ترتیب د ترمذی شریفی په حدیث کی

الحاج مولوی محمد صادق

۱- ابوبکر رضی الله تعالی عنه
۲- عمر رضی الله تعالی عنه
۳- عثمان رضی الله تعالی عنه
٤- علی رضی الله تعالی عنه
٥- طلحه رضی الله تعالی عنه
٦- زبیر رضی الله تعالی عنه
۷- عبدالرحمن بن عوف رضی الله تعالی عنه
۸ - سعد بن ابی وقاص رضی الله تعالی عنه
۹- سعید بن زید رضی الله تعالی عنه
۱۰- ابوعبیده بن الجراح رضی الله تعالی عنه

دعشره مبشره رضی الله عنهم ترتیب د نسب په لحاظ :

محمد صلی الله علیه و آله وسلم
بن
عبدالله
بن
علی رض بن ابی طالب بن عبدالمطلب
بن
هاشم
بن
عثمان (رض) بن عفان بن ابی العاص بن أمیه بن عبدالشمس بن عبدمناف
بن
زبیر (رض) بن العوام بن خویلد بن اسد بن عبدالعزی بن قصی
بن
عبدالرحمن (رض) بن عوف بن عبد بن الحارث بن زهره بن کلاب
سعد (رض) بن ابی وقاص بن اهیب بن عبدمناف بن
بن
ابوبکر (رض) (عتیق) بن ابی قحافه (عثمان) بن عامر بن عمرو بن کعب بن سعد بن تیم بن مرة
طلحه (رض) بن عبیدالله بن عثمان بن
بن
سعید(رض) بن زید بن عمرو بن نفیل بن عبدالعزی بن عبدالله بن قرط بن رباح بن رزاح بن عدی بن کعب
عمر(رض) بن خطاب بن
بن
لؤی
بن
غالب
ابوعبیده(رض) بن الجراح بن عبدالله بن الجراح بن هلال بن اهیب بن ضبه بن الحارث بن فهر
بن
مالك
بن
النضر
بن
کنانه
بن
خزیمه
بن
مدرکه
بن
الیاس
بن
مضر
بن نزار
بن
عدنان

اعلان ترجمه و تفسیر قرآن کریم

به همه، طلاب و شایقین محترم به عرض رسانیده میشود که:

تفسیر و ترجمه، قرآن کریم بتاریخ ۲۳ شعبان مطابق (۲٤) جدی در ولایت خوست توسط الحاج شیخ القرآن مولوی محمدصادق و جناب مولوی شهاب الدین(دلاور) صاحب آغاز میگردد. امید میرود که این فرصت را غنیمت شمرده غرض ثبت نام به نمایندگی (تحریك اسلای طالبان) واقع بورد - پشاور مراجعه فرمایند.

از طرف نمایندگی پشاور (تحریك اسلامی طالبان)

شریعت

دامتیازخاوند : د افغانستان د طالبانو اسلامی تحریك
دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
دخپریدو ځای: د افغانستان جنوبی حوزه
د لیکوال هیئت تر کتنی لاندی
ټیلفون : ٤۲٦٤٥
آدرس :په پیښورکښی دطالبانو اسلامی تحریك نمایندګی
دیوی ګڼی بیه په هیواد کښی (۲۰۰) افغانی
په پاکستان کښی (۲) کلداری

د طالبانو د اسلامی تحریك د حج او اوقافو د ریاست اعلامیه

ټولو هیوادوالو ته خبر ورکول کیږی چی د لمړی ځل لپاره د طالبانو د اسلامی تحریك لخوا هیواد وال وروڼه حج ته لیږل کیږی، شایقین حضرات کولای شی چی د (۱۳۰۰) یوزردری سوه ډالر و په ورکړه خپل (۱٥) پنځلس عکسونه او تذکره د روژی د میاشتی تر لومړی نیټی پوری قندهار ته راورسوی او ډالر به د ۱۹۹۰م کال او راورروسته ماډل وی.

د یادولو وړ دی چی له تحویل شویو ډالرو نه(۳۰۰) ډالر بیرته ورکول کیږی.

د بی درکی اعلان

جلال الدین دمولوی کمال الدین زوی په عمر ۱۳ کلن، مورنی ژبه یی پښتو ده. یوه میاشت وشوه چی ورك دی که چاته معلوم وی نو دجلوزو کمپ دهجرت کلی په کمپ استقبال کی دی له مولوی شهاب الدین دلاور سره رابطه ونیسی.

یادونه

ښایی ستاسو ایمان به اجازه در نکړی چی دا ډول سپیځلی پاڼی په ناوړو ځایونو کښی وغورځوی. (اداره)

د بی درکی اعلان

محب الله د غلام جان زوی په عمر لس کلن، شنی جامی په تن لری له کوره بی درکه شوي دی. که د محب الله په هکله څوك معلومات لری، مهربانی دی وکړی په دی پته موږ ته خبر راکړی.

پیښور، بورډ د تبلو دپمپ ترڅنګ د زیارت جومات.